مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رناګل اریوبزی ۲۰۲۱/۰۳/۰۸

# د غنی خان رنګینه ځوانی

## او د زړونو خانی

**«استاد رڼاګل اریوب زی د پکتیا د ځاځیو په آریوب سیمه کې زیږیدلی دی. لوړې زده کړې یې د پخواني لویدیز جرمني په ګویټي پوهنتون کې په ځګه نمره بشپړې کړې وې، د کابل پوهنتون د ښونې او روزنې د پوهنځي مشر و او لکه چې وینئ د خیرالبیان په تال لیکنې کوي. ښواند اریوبزی په عدالت مین دی، له علمي بحث نه خوند اخلي، له غیبت او تعصب نه ډډه کوي ، او په ملګرتیا کې ټینګ سړی دی.»**

**ځیرکپار**

غني خان د ځوانی په رنګین خیال کې دسیند دسپینو شګوځانته جوړ کړ یو محل چې دې ټول خرګي جهان ورته ح یران حیران کتل.

هسکي منارې، جګ جګ دیوالونه، شنه شنه چمنونه او باغونه، رنګ په رنګ ګلونه د نرګس اود رامبیل او د مر سل، مالیار یې کړ بلبل .

یوه ښکلي معماری ده، د ار مان یوه نقاشي ده، بس دخیا ل فکر سیا لی ده .هنرونه، فلسفی او ارمانونه، دا هر څه پریمان دي، پکښې مینه شهزادګی ده، دا نور ټول یې نوکران دی .

**د خیا ل په دی محفل کې نه شیران شته نه پړانګان، نه ګیدړی نه لیوان، نه جنګ، جنګ سالا ران او نه کونډی یتیمان .بس زرکي دي تنځری، شنې سپینې کوترې، شنه طوطیان، تورې بلبلې، خوږې خوږې نغمی دي په زړه پورې سندرې .یو سوز دی**
**یو ساز دی، هم ناز دی هم راز دی، یو محفل دوصال دی د مجنون د لیلی، د فرهاد شیرینی، د ادم درباب ترنګ د ی د درخو دبنګړو شرنګ دی .غنی**
**یې په منځ کې ناست دی، نه سر دار دی، نه آغا او نه بادارد ی، یو دغم تاج یې په سر دی، په مینه کې سر شار دی، بس دزړونو خریدار دی او په هر زړه کې مکان دی، دغه خان دزړونو خان دی .**

هلته په یوه باغ کې د انګورو، یوټولګی راغی دحورو، نغمو ته دبلبلو نڅید لې، خندید لې، غنی چې دخیال په آسمان و کې لا پخوا وې پیژندلي اظهاریې ورته وکړ داخولاندې ملغلرې:

ځوړنـد د دوو سـتـورو نه چي ستا د زرو تـال و
پروت چې په دې زلفوکې د منګ په ځای هلال و

هغه چې په دړو کې دستورو ګر ځـیـد له
له یا به د سپوږ مۍ شغلو کې پـټه ګډ ید


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

له حور ي ما هم بوزه د رڼا هغه جها
تـا سره به زه هم خوا کې تال واچوم ځان له

دغنی په رنګين خيال کې اوپه دغه خيالي تال کې د پښتو شعر وادب چې زنګيدلی پورته ستورو ته ختلی، دشغلی په شان ځليږي، يوه رنګينه منظره ده، يو کمال دی دجمال، يوه عجـيبه ننداره ده، د پتمن ژوند ترا نه ده، په لوستو يی ياره ګوره ړندې سترګی بينا کيږی، تور زړونه رڼا کيږي، کېنه ډار ور ځنی تښتي او له مينی نه ډکيږي. د غنی دغه ارمان دی او دا خـان دزړونـو خـان دی خو چې زور چاړی ته لاس کړي،يو وحشي غوندې جلادشي، دا نازک دمينی ډک زړه هم فولاد شي. دحسين په شان يزيد ته ټينګ ولاړ وي په ميدان کې، په ښار کې، په بيديا او په زندان کې. نه ويريږي ، نه ماتيږي او نه ټيټيږي. يو سرکښه نارينتوب شي، يـوجنـون شي دمجنون، د مينی ليونتوب شې او کمال دسړيتـوب شي. دا زړه د غـنی خان دی،غـنـی ځکه لـوی انسان دی چې د مينې ليـوني ته اپلا تون لاس په سلام دی او دا خـان د زړونو خـان دی د مينی دا ليوال دامن طلبګاردی، د زور سره په جنجال دی او ورتـه وايی چې:

زه ذات يـم دانسان، ته بچی يي دشيطا ن، زما وينه پا که مينه، ته يې اور دجهـنم، نـور نـــه لرې تک توريې، ته کېنه يې ته فتنه يی، ته يې غم ته يې ماتم، ته آفت يې ته ذلـت يې، ته اســـتازی د ستـم. ته په ځان باندې مغرور يی، زه په مينه کې سر شار، ته يی وږی د لالونو زه يم تږی د خمار. زه اوته نه سره جوړيـږو، ته او زه به سره جنګيـږو، په بحر او په بر، په سمه او په غر. دا مې عزم دا ايمان دی، دا ګز اودا ميدان دی. غنی په دی سنګر کې نه توپ او نه ټوپک لري، نه د توري پـړک لري، نه د زغرو شرنګ لري. دی د مينې په لښکر په زور شـو زورور او ترې جوړ يې کړ خړ خر. د جـهاد په دې سنګـرکې غـنـی خان يو قهرمان دی، د خپل پلار په لار روان دی، او سوری وهی چې:

وهم منډی تا پسې خو ته هم لري
وينم ستا ايله ايله د پـــښو غـباره

پروا نشته که په منډو منډو مړ شم
فقط ستااود خپل قـوم د نوم لپاره

بابا تـه د غني دغه پيغام دی، بابه فخر دافغان دی او غـنـي دزړونو خان دی.

بل خوا ته چې ګوري دا له مينی خالی زړونه، دا بی زړونو جسدونه، اوړدې بمبلی ږيرې ، د ريا عبادتونه، په وينو سره لا سونه اوشلمې خيټې دپخې غلې کندوان، دا بی پـته مار شالان، د فساد قهر مانان، زورور په يتيمانوخو دزور دي غلامان، دا د خاورې دلالان او دا بې رحمه لوټماران، چې نه يی دين شته نه ايمان، او نه يوبل کوم غټ ارمان! اوبس ديـته يې تـلوسه ده چې: چرته چې پيسه ده، هغه د ده کعـبه ده، د ده ورته سجده ده، دا يی عهد دايی پـيمان دی، دا مغل دی که افغان دی، غنی ور سره وران دی،غنی ځکه زړونو خان دی.

رڼا ګل اريوب زی

۲۰۱۷ جرمني


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ